مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۰۹** (از ۲۳ حوت ۱۳۹۳ الی ۲ حمل ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه ........ ۲

**د سعودي له خوا د ایران-ضد ایتلاف جوړولو هڅې**

- سعودي-ایران اړیکې (۱۹۲۹-۱۹۷۹) ........ ۳
- سعودي-ایران اړیکې؛ د ایران له اسلامي انقلابه تر اوسه ........ ۵
- سعودي ته ولې د یوه نوي ایتلاف جوړولو اړتیا پېښه شوه؟ ........ ٦
- د ایران-امریکا مذاکرات او د سعودي اندېښنې ........ ٦
- یمن ........ ۷
- تېل ........ ۸
- د سعودي فعاله ډیپلوماسي او افغانستان ........ ۸

**حکومت افغانستان؛ در جستجوی صلح از ریاض تا دهلی و بیجنگ**

- معمای مذاکرات جدید صلح ........ ۱۰
- از اطلاع رسانی تا شایعه پراکنی ........ ۱۱
- اگر طالبان به امر پاکستان عمل کنند! ........ ۱۲
- حکومت افغانستان طالبان را دشمن اصلی خود می‌داند ........ ۱۳
- اهداف و نتایج سفرهای اخیر مقامات افغان ........ ۱۳

## مقدمه

د سعودي عربستان مخکېنی پادشاه ملک عبدالله په جنوري میاشت کې ومړ او پر ځای يې ملک سلمان د دغه هېواد نوی پادشاه وټاکل شو. د ملک سلمان له راتگ سره د سعودي بهرنۍ چارې د ایران-امریکا له خبرو او په سیمه کې د اسلامي دولت ډلې (داعش) له راپورته کېدو سره ډېرې فعالې شوې.

دا چې سعودي عربستان په منځني ختیځ کې د ایران له واک او ځواک څخه وېره لري، نو ځکه يې په دې وروستيو کې د ایران-ضد ائتلاف جوړولو لپاره، ګړندۍ هڅې پیل کړې او د افغانستان په شمول يې د بېلابېلو هېوادونو مشران، پر همدغو موضوعاتو د بحث لپاره خپل هېواد ته وروبلل. د سعودي-ایران د اړیکو شالید ته په کتو سره، د دغو دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو د خرابېدو لاملونه څه دي؟ او همدا راز د یوه سُني ائتلاف د جوړولو لپاره د دوی هڅې ترکومه بریالۍ دي؟

له بلې خوا افغان ولسمشر اشرف غني هم سعودي ته په خپل وروستي سفر کې، یو ځل بیا له سعودي څخه د افغانستان د سولې په بهیر کې د همکارۍ غوښتنه وکړه، ترڅو پر پاکستان له خپل نفوذ څخه په ګټې اخېستنې سره، دغه هېواد پر خپلو ژمنو وفا کولو ته وهڅوي. همدا راز نوي ډیلي ته د اجرائیه رییس ډاکتر عبدالله سفر او په کابل کې د افغان-چین چارواکو ګډه غونډه هم دې ته ورته هڅې بلل کېږي.

پوښتنه دا ده، چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې د خبرو اترو د پیلېدا اوازې څومره حقیقي بڼه لري؟ او ایا افغان حکومت به وتوانېږي چې پاکستان په خپلو ژمنو وفا کولو ته اړباسي؟ او په ټولیز ډول به د سولې لپاره د افغان حکومت نوې هڅې څه پایله ولري؟

د دې اوونۍ په تحلیل کې، پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د څېړنیزې څانګې شننې لولئ:

# د سعودي له خوا د ايران-ضد ائتلاف جوړولو هڅې



په نږدې څو اوونيو کې رياض ته د سعودي عربستان د پادشاه ملک سلمان له خوا د سُني نړۍ ډېرى مشران رابلل شوي وو، چې د کودتا په پايله کې واک ته رسېدلى د مصر ولسمشر عبدالفتاح السيسي، د ترکيې ولسمشر رجب طيب اردوغان، د کويټ او عربي متحده اماراتو اميران، د پاکستان لومړى وزير نواز شريف او د افغانستان ولسمشر اشرف غني پکې شامل وو. په دغو ليدنو کتنو کې د خبرو اترو اجنډاوې هم په عربي نړۍ کې د ايران زياتېدونکى نفوذ (سوريه، لبنان، عراق، يمن) داعش ډله او د امريکا-ايران خبرې اترې وې؛ ځکه داسې گومان کېږي چې ايران او امريکا به ډېر ژر د ايران د اټومي موضوع په اړه، په يوه تړون سره سلا شي.

د سعودي-ايران د اړيکو تاريخي شاليد، د اړيکو د خرابېدو لاملونه، د سعوديانو اوسنۍ انديښنې او د يوه سُني ائتلاف د جوړولو په اړه د دوی هڅې، په دې موضوع کې د پام وړ ټکي دي.

## سعودي-ايران اړيکې (۱۹۲۹-۱۹۷۹)

د سعودي عربستان د سعود کورنۍ له ايران سره ډېرې پخوانۍ اړيکې لري او دا اړيکې هغه مهال پيل شوې، چې کله د آل سعود کورنۍ پر حجاز واکمنه شوه. هغه مهال د آل سعود کورنۍ د مکې له امير "شريف" سره د واک پر سر اختلافات درلودل او د پارس رضاشاه پهلوي په يوه ناکامه هڅه کې د دوی ترمنځ د روغې جوړې

هڅه وکړه. وروسته چې کله عبدالعزیز پر سعودي عربستان واکمن شو، نو ده له پارس څخه یو پلاوی له سعودي عربستان څخه د لیدنې لپاره وروغوښت.

په ۱۹۲۹ کال کې دواړو هېوادونو له یوه بل سره ډیپلوماتیکي اړیکې هم ټینګې کړې او په همدغه کال یې د سعودي-ایران د ملګرتیا تړون هم لاسلیک کړ؛ خو بیا تر پنځو نورو لسیزو پورې (د ایران تر اسلامي انقلابه) دواړو هېوادونو په خپلو اړیکو کې لوړې او ژورې ولیدلې.

په دغه پړاو (۱۹۲۹-۱۹۷۹) کې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې پر ځینو عربي سیمو د ایران د دعوې له کبله هم خرابې شوې. ایران په بحرین او د هرمز په ستراتیژیک تنګي کې د ابوموسی، تنب بزرګ او تنب کوچک پر ټاپوګانو دعوې لرلې او اوسمهال د هرمز دغه ټاپوګان د ایران په ولکه کې دي.

د اړیکو د خرابېدلو دویم لامل په ۱۹۷۳ کال کې د ایران له خوا له سعودي او عربي هېوادونو سره یوځای، د اسرائیلو او غربي هېوادونو پرخلاف د وسلې په توګه د تېلو نه کارول وو. سعودي او عربي نړۍ د یوم کپور جګړې پرمهال د اسرائیلو پرخلاف تېل د یوې وسلې په توګه وکارول، چې په لویدیځ کې یې انفلاسیون رااووست او د غربي نړۍ اقتصاد ته یې درانه تاوانونه ورسول. دغه بحران اوس هم د لویدیځ په اقتصادي کتابونو کې د 1973 oil embargo او اقتصادي بحران په توګه یادېږي.

د ایران-سعودي اړیکو د خرابتیا بل لامل د ایران له خوا د وسلو رانیول او په نظامي ډګر کې ډېره پانګونه وه، چې سعودیان یې ووېرول او دغه کړنې یې د ایران له پراختیا غوښتنې سره تشبیه کړې.

که څه هم پورته هغه لاملونه وو، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ یې اړیکې خرابې کړې، خو هغه مهال د ایران محمد رضا شاه پهلوي د شاه فیصل له هغو هڅو ملاتړ وکړ، چې له کبله یې د مسلمانانو مختلف سازمانونه رامنځ ته شول. د دې ترڅنګ په دغه پړاو کې دواړه هېوادونه په منځني ختیځ کې د شوروي د نفوذ په مقابل کې خنډ شول او ترڅنګ یې د جمال ناصر پرخلاف هم ورته دریځ ونیوه.

د سعودي یو اکاډمیک لیکوال، چې په خپل کتاب کې یې د دواړو هېوادونو اړیکې څېړلې دي، لیکي: په دغه پړاو کې دواړو هېوادونو دا زده کړې وه، چې په مشخصو ډګرونو کې به له یو بل سره همکاري کوي او هڅه به کوي چې ترمنځ یې شته اختلافات د دوی پر اړیکو منفي اغېزې ونه ښندي[1].

[1] Saeed M. Badeeb, Saudi-Iranian Relations 1932-1982, London: Centre for Arab and Iranian Studies, 1993, pp 64

## سعودي-ايران اړيکې؛ د اېران له اسلامي انقلابه تر اوسه:

د سعودي عربستان او ایر ان اړيکې د اېران له اسلامي انقلاب سره خرابې شوې. ځکه د ايران انقلابي رهبرانو له يوه مخه لويديځ-ضد دريځ ونيوه او له بلې خوا يې په اسلامي نړۍ کې بادشاهي حکومتونه هم وغندل. دا مهال د اختلافاتو بنسټيزې نقطې شيعه او سُني اختلافات، په اسلامي نړۍ کې د اېرانيانو د نظرياتو صادرول او مشري وه.

دغه اړيکې هغه مهال لا خرابې شوې، چې کله د عراق-ایران په جګړه کې سعودي له عراق سره مرسته وکړه او بيا په ۱۹۸۷ کال کې د حج په مراسمو کې هغه بده پېښه هم تکرار شوه، چې له ۴۰۰ څخه زيات حاجيان پکې ووژل شول. دا چې په حج کې پاڅون کوونکي شيعه ګان وو او له ايران سره يې تړاو درلود او ايران د دغو کسانو پر وژلو له سعودي څخه ښښنه او ديت غوښت، چې بالاخره يې له امله د سعودي-ايران ډيپلوماتيکې اړيکې پرې شوې او سعودي د ايران پر حاجيانو بنديز ولګاوه، چې بيا دغه بنديز تر ۱۹۹۱ کال پورې لګېدلی و.

وروسته په نوييمه لسيزه کې اړيکې تر يوه حده پورې د ښې کېدو په لور ولاړې، د ايران له خوا خاتمي او رفسنجاني سعودي عربستان ته سفرونه وکړل او د سعودي له خوا په ۱۹۹۷ کال کې ملک عبدالله ايران ته په اسلامي کنفرانس کې د ګډون لپاره راغی او د همدې لسيزې په وروستيو کلونو کې سعودي او ايران ترمنځ يو تړون هم لاسليک شو.

په يوويشتمه پيړۍ کې هغه مهال دواړو هېوادونو يو بل ته د «دوو ورونو هېوادونو» خطاب وکړ، چې کله محمود احمدي نژاد په ۲۰۰۷ کال کې سعودي ته ولاړ او ملک عبدالله په خپله هوايي ډګر ته د هرکلي لپاره ورته راغی. مګر په وروستيو کلونو کې د عربي بهار او د ايران اتومي پروګرام له کبله اړيکې بيا خرابې شوې او تر داسې ځايه راورسېدې، چې ملک عبدالله له امريکا وغوښتل چې پر ايران بريد وکړي او د دوی اتومي پروګرام له منځه يوسي، دغه خبرې بيا د ويکي ليکس له افشاګريو سره افشا شوې.

## سعودي ته ولې د یوه نوي اېتلاف جوړولو اړتیا پېښه شوه؟

پوښتنه دا ده، چې سعودي خو له پخوا څخه هم له ایران سره په یوه سړه جګړه کې ښکېل و او په ځینو عربي هېوادونو کې خو د دوی ترمنځ دغې سړې جګړې د ګرمو جګړو جامه هم اغوستې وه، نو ولې اوس د اېران-ضد سُني اېتلاف هڅې کوي؟ دغه پوښتنه څو عمده لاملونه لري، چې له تېرو څو میاشتو جیو-پولیټیکو بدلونونو له کبله رامنځته شوي دي، لکه:

1. د ایران د اتومي پروګرام په سر د امریکا-ایران خبرې اترې؛
2. په یمن کې د حوثیانو کودتا؛
3. د تېلو د نرخونو ټیټېدل؛
4. داعش ډله: د نورو لاملونو ترڅنګ د سعودي لپاره له داعش څخه د وېرې یو اساسي ټکی دا دی، چې د سعودیانو په څېر د داعش ډلې غړي هم سلفي نظریاتو ته مایل دي. سعودي به هېڅ مهال ونه غواړي، چې د هېواد دننه یې د خلکو سلفي نظریات د داعش ډلې پر څېر په یوه انقلابي فکر بدل شي.

## د ایران-امریکا مذاکرات او د سعودي اندېښنې:

امریکا له تېرو دوو لسیزو راهیسې د ایران پر اتومي پروګرام نیوکې کوي او په دې اړه یې تراوسه پر ایران ډېر اقتصادي بندیزونه هم لګولي دي. د دې ترڅنګ یې په نورو هېوادونو هم فشار وارد کړی، څو له اېران سره په اقتصادي پروګرامونو کې دننه نه شي، څرګنده بېلګه یې د ایران-پاکستان-هند د غازو د نللیکې پروګرام دی، چې د امریکایي فشارونو له کبله لا تراوسه نه دی پلی شوی.

د دې ترڅنګ امریکا څو ځله پر ایران د پوځي عملیاتو شنه ګراخونه هم ورکړي، خو د عراق او افغانستان اوږدو جګړو له امریکا څخه دا توان واخېست، چې پر ایران هم پوځي یرغل وکړي.

له ایران سره د امریکا اړیکې د محمود احمدي نژاد په دوو دورو کې هم ډېرې خرابې وې؛ خو د حسن روحاني له راتګ سره، چې په لویدیځ کې د یو منځلاري په توګه مشهور شوی، له امریکا سره خبرې اترې پیل شوې او له تېرو څو اوونیو راهیسې ګرمې اوازې دي، چې شاید دواړه هېوادونه په راتلونکو څو میاشتو کې له یو بل سره د

اتومي پروګرام په اړه یوه معامله وکړي. دغو اوازو نه یوازې دا چې په امریکا کې د جمهوري خواهانو ګوند او د اسرائیلو لومړی وزیر نتنیاهو پارولی، بلکې د سعودي په مشرانو کې یې هم اندېښنې خپرې کړې دي.

ویل کېږي، چې د معاملې له مخې به ایرانیان دې ته چمتو شي، چې نړیوالو نظارت کوونکو ته دا اجازه ورکړي، چې که هر ځای او هر وخت وغواړي د ایران له اتومي بټیو څخه لیدنه وکړي. دوی به د یورانیمو غني کول له یوې محدودې پیمانې څخه نه زیاتوي او کوم یورانیم چې ډېر غني دي، هغه به لرې کوي، ترڅو ایران د اتوم جوړولو جوګه نه شي. خو په غبرګون کې به امریکا له ایران څخه اقتصادي بندیزونه لرې کوي او په نړیوال تجارت کې به برخه اخیستلای شي.

که چیرې امریکا او ایران همداسې یوه توافق ته ورسېږي، نو هم به اوباما په خپله دوره کې داسې څه ترلاسه کړي وي، چې په تاریخ کې دی پرې یاد شي او هم به ایران له اقتصادي بندیزونو څخه راوتلی او د پرمختګ په لور به روان شوی وي. خو دواړه هېوادونه په دې تړاو له داخلي او خارجي ننګونو سره هم مخ دي. اوباما په داخلي توګه د جمهوري خواهانو ګوند تر فشار لاندې دی، ځکه د دغه ګوند ۴۷ غړو وار له مخه ایران ته لیک استولی، چې د دوی پر ولسمشر باور ونه کړي او خپل کانګرس ته یې د اسرائیلو لومړی وزیر نتنیاهو هم رابللی و. په خارجي ډګر کې به اوباما د خپل ستراتیژیک ملګري سعودي تر تاثیر لاندې وي. همدا ډول روحاني هم په داخلي توګه د اخوندانو تر تاثیر لاندې دی.

## یمن:

یمن، چې له سعودي سره ګاونډی دی او یو شمېر وګړي یې شیعه مذهبه دي، له پخوا راهیسې د سعودي-ایران د سړو جګړو یو بل ډګر دی. حوثیان، چې له ایران سره اډیالوژیک او مذهبي مشترکات لري، له ۲۰۱۱ کال راهیسې د یمن د ولسمشر عبدالله صالح پرخلاف انقلاب ته ملا تړلې وه. خو په ۲۰۱۴ کال کې حوثیان له خپلو سیمو څخه په راوتلو سره له ایزیدیانو سره په اړیکه کې شول او دې چارې د دوی ځواک لا زیات کړ.

د روان میلادي کال په پیل کې حوثیانو په یمن کې ولسمشرۍ ماڼۍ ونیوله او یمنی ولسمشر منصور هادي یې استعفا ته اړ کړ. سعودي له دې وړاندې له صنعا (یمن) سره ډېرې ښې اړیکې درلودې، له دوی سره یې مرستې کولې او اوس یکې د یو ایران پلوه ډلې نفوذ پراخېدل د ځان لپاره ګواښ ګڼي. دواړه (سعودي او ایران) هڅه کوي، چې له یو بل نه د حصار کړۍ راتاو کړي. له دې سره په ورته هڅه کې، د تېرې پېړۍ په اتیایمه لسیزه

کې سعودي له افغان مجاهدینو او پاکستان سره ستراتیژیکه ملګرتیا لرله، د عراق-ایران جګړه کې یې له صدام حسین څخه ملاتړ وکړ او په دې توګه یې له ایران څخه د حصار کړۍ راتاو کړه. همدا راز اوس ایران هڅه کوي چې له سعودي څخه د حصار کړۍ راتاو کړي. دوی په سوریه کې له بشار الاسد، په لبنان کې له حزب الله او اوس په یمن کې د حوثیانو د واک او ځواک لپاره هلې ځلې کوي. حوثیانو په ۲۰۰۹ کال کې له سعودیانو سره د پولې پر سر جګړې کړې او د تېر کال په روژه کې یې پنځه سعودي پوځیان هم وژلي وو.

## تېل:

که څه هم د تېلو موضوع پخوا هم د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې خرابې کړې وې؛ خو اوسمهال هم همدا تېل دي، چې د سعودي اړیکې یې نه یوازې له ایران بلکې له روسیې سره هم خرابې کړې دي. همدا لامل دی، چې د ۲۰۱۴ کال په نوامبر میاشت کې پوټین د سعودي د بهرنیو چارو له وزیر سره له کتنې څخه هم ډډه وکړه.

سعودي د دې وړتیا لري چې یوازې په یوه ورځ کې له ٦ څخه تر ۱۲ ملیونو بېرلو پورې تېل تولید کړي. د اقتصاد د بنیادي نظریې له مخې، څومره چې په نړۍ کې رسد زیاتېږي (که تقاضا یې ساکنه وي) نو نرخونه به کمېږي. نو ځکه ایران او روسیه دواړه د تېلو د نرخونو د ټیټیدلو ترشا د سعودي او امریکا ګډ لاس ویني؛ ځکه امریکا غواړي، روسیه چې ډېره تکیه یې پر تېلو ده، د یوکراین د قضیې له کبله له یو اقتصادي بحران سره مخ کړي او سعودي هم غواړي، چې ایران ته اقتصادي ګوزار ورکړي.

سعودي د تېلو ډېر استخراج کوي، ترڅو د تېلو په نړیوال مارکیټ کې د تیلو نرخونه راټیټ کړي دا یې په خپل اقتصاد هم بده اغېزه پرېباسي؛ خو سعودي چې د نړۍ د تېلو ډېرې زیرمې لري، د دې جوګه دی، چې په داسې کولو سره هغو هېوادونو ته صدمه ورسوي، چې د تېلو لږ استخراج او لږې زیرمې لري.

## د سعودي فعاله ډیپلوماسي او افغانستان:

سعودي په تېرو څو میاشتو کې په بهرني سیاست کې ډېر فعال پاتې شوی. د روان میلادي کال د جنورۍ میاشتې د پای په ورځو کې اوباما سعودي ته ولاړ، وروسته د انګلېستان شهزاده له ملک سلمان سره وکتل؛ خو کله چې په سیمه کې د یمن قضیې او ایران-امریکا خبرو زور واخیست سعودي د مصر، ترکیې، پاکستان،

کوېټ، عربي متحده اماراتو او افغانستان مشران خپل هېواد ته وروبلل. دغه هېوادونه نه يوازې دا چې سُني مذهبه دي، بلکې له ايران څخه د تاو شوي کړۍ په توګه هم مهم هېوادونه دي؛ خو دا چې ملک سلمان به پر دې وتوانېږي، چې په منځني ختيځ او اسلامي نړۍ کې د ايران پر ضد يو سُني ايتلاف رامنځته کړي کنه؟ تر ډېره به د دغو هېوادونو له پرېکړو سره تړاو ولري.

پاکستان او ترکيه به شايد په يوه داسې ايتلاف کې دننه نه شي، چې بنسټيزه موخه يې د دوی ګاونډی وي. البته دوی به له دواړو سره خپلې اړيکې ښې وساتي. د ډان اخبار له مخې پاکستان لا له وړاندې څخه د سعودي دغه وړانديز، چې سعودي ته خپل نور سرتيري هم ورولېږي، رد کړی دی.

په همدې تړاو د افغانستان ولسمشر اشرف غني هم سعودي ته د ملک سلمان په بلنه سفر وکړ. که څه هم په افغاني مطبوعاتو کې د دغه سفر موخه د سولې خبرې وې؛ خو د ډېری شنونکو په اند د داعش ډلې لانجه او په عربي نړۍ کې د ايران د زياتېدونکي نفوذ هم د اجنډا برخه وو.

دا چې افغانستان په خپل هېواد کې له ناامنيو او بې ثباتۍ سره مخ دی او سعودي تر اوسه افغانانو ته نه د کار ويزې ورکړې او نه يې په دغه تېر پنځلس کلن پړاو کې په افغانستان کې ډېرې پانګونې او مرستې کړې دي، د کابل لپاره به مناسبه نه وي، چې ځان يوځل بيا د نورو د جګړو قرباني او د پرديو نيابتي جګړو ډګر وګرځوي. البته کابل له ايران او سعودي سره د داعش ډلې په تړاو همکاري کولی شي، ځکه دا يو ګډ ګواښ دی خو د ايران په تړاو له سعودي سره همکاري به، د افغانستان لپاره منفي اغېزې ولري.

# حکومت افغانستان؛ در جستجوی صلح از ریاض تا دهلی و بیجنگ



در چند روز اخیر رئیس جمهور غنی و داکتر عبدالله عبدالله رئیس اجرائیهٔ حکومت وحدت ملی، سفرهایی به کشورهای سعودی و هندوستان داشتند. همزمان با سفر این دو مقام، وزارت خارجهٔ افغانستان نیز نشستی را با اشتراک عده‌ای از مقامات چینی در کابل برگزار نمود.

هدف اصلی از سفر اشرف غنی و عبدالله و نیز نشست در وزرات خارجه در کابل، تلاش در جهت کسب حمایت کشورهای دیگر در پروسهٔ صلح افغانستان خوانده شد. اشرف غنی در سفر به سعودی از مقامات سعودی خواست تا از نفوذ خود بر پاکستان برای کمک به پروسهٔ صلح در افغانستان استفاده نماید.

## معمای مذاکرات جدید صلح:

از زمانیکه مقامات نظامی پاکستان با سفرهای خود به کابل، وعده دادند که به زودی طالبان به مذاکرات صلح با دولت افغانستان خواهند پرداخت، شایعاتی در مورد این مذاکرات شنیده شده، اما طالبان به شدت این شایعات را رد کرده‌اند.

در گذشته معمولاً سخنگویان رسمی طالبان در رد چنین شایعات اعلامیه صادر می‌کردند، اما در این اواخر دفتر سیاسی طالبان در قطر در یک اقدام بی‌سابقه، هرگونه مذاکره و حتی تماس با حکومت افغانستان را نیز رد کرد. در

اعلامیۀ دفتر سیاسی طالبان در قطر هرچند صلح آرزوی دیرینۀ مردم افغانستان خوانده شده که طالبان نیز خواهان آن اند، اما گفتند که شرط اساسی رسیدن به صلح، پایان اشغال افغانستان است.

در این اعلامیه ضمن اینکه شایعات مذاکرات صلح جنگ تبلیغاتی علیه طالبان خوانده شده، تذکر به عمل آمده است که تا کنون هیچ مذاکره‌ای صورت نگرفته و هیچ کسی هم برای تدویر چنین مذاکرات از جانب طالبان مؤظف نشده است. اگر مذاکراتی صورت گیرد، به صورت پنهانی نخواهد بود و دفتر طالبان در قطر مردم را در جریان مذاکرات قرار خواهد داد.

بنابراین یک طرف مذاکرات صلح یعنی طالبان به صورت مطلق اخبار گفتگوی شان با حکومت افغانستان را جنگ تبلیغاتی و ناشی از شکست دشمن خود در میدان جنگ مسلحانه می‌داند.

## از اطلاع رسانی تا شایعه پراکنی:

رسانه‌های پاکستان از بدو ظهور این شایعات، منبع پخش اخبار مذاکرات صلح بوده‌اند و همیشه هم اخبار در این مورد را از قول منابع مجهول نقل کرده‌اند. این اخبار بعدا با آب وتاب فراوان، در رسانه‌های افغانستان نقل می‌شود و به دنبال آن تحلیلگران سیاسی در افغانستان بر بنیاد همین اخبار نادرست، به تحلیل و تجزیه پرداخته و حتی رئیس جمهور غنی و اطرافیانش را به خاطر مذاکرات پنهانی که اصلا مشخص نیست در کجا صورت گرفته، مورد انتقاد قرار می‌دهند.

این اخبار نادرست، زمانی در رسانه‌های پاکستان به نشر می‌رسد که صداقت پاکستان در تعهداتش در مورد صلح زیر سوال می‌رود. در آخرین مورد رسانه‌های پاکستانی دلیل تأخیر در مذاکرات صلح را ناشی از اختلافات داخلی طالبان یعنی تضاد دیدگاه در مورد صلح میان ملا اختر محمد منصور و ملا ذاکر دانستند که گویا منصور با برنامۀ صلح موافق و ذاکر مخالف است.

## اگر طالبان به امر پاکستان عمل کنند!

طالبان بیش از اینکه یک گروه سیاسی باشند، یک تحریک مذهبی با باورهای خاص خود اند. تصور آنان از جنگ و صلح با معیارهای معمول در میان گروه‌های سیاسی کاملا متفاوت است و آن‌ها هرگز پیروزی در مذاکرات سیاسی را در به دست آوردن کرسی‌های بیشتر در قدرت سیاسی نمی‌بینند. برای آنان پیروزی به معنای تطبیق شریعت در نظام سیاسی افغانستان است که افراد این گروه به خاطرش حاضر اند از جان خود به سادگی بگذرند.

اگر فرض را بر این بگذاریم که طالبان به خواست پاکستان تسلیم شوند و به منظور تقسیم قدرت به مذاکره با دولت افغانستان بپردازند، سرنوشت این گروه چه خواهد شد؟

رهبران طالبان در طول سیزده سال گذشته به آن‌ها اطمینان داده بودند که هیچ هدفی بالاتر از آزادی افغانستان از چنگ امریکایی‌ها و تطبیق شریعت در افغانستان، برای شان وجود ندارد. حالا اگر رهبران شان مطابق به خواست پاکستان، با جانب افغانستان به مذاکرات صلح می‌پردازند، جنگجویان این گروه به این نتیجه می‌رسند که جنگ سیزده سالهٔ آن‌ها علیه امریکایی‌های و حکومت کابل به دستور پاکستان بوده و رهبران شان از خود اراده‌ای نداشته اند. این نتیجه‌گیری فقط یک پیامد در قبال خواهد داشت و آن اینکه جنگجویان راه خود را از راه رهبران خود جدا می‌سازند و این پایان کار طالبان به عنوان قدرت نظامی برای همیشه خواهد بود.

آغاز فعالیت‌های گروه دولت اسلامی (داعش) در افغانستان که تازه فعالیت‌های تبلیغاتی خود را با ربودن 31 تن از هزاره‌های شیعه مذهب از مسیر شاهراه کابل قندهار آغاز کرده‌اند، نیز شرایط بسیار حساسی را برای طالبان ایجاد نموده که هر اشتباه کوچک آنان می‌تواند به لغزیدن گروه کثیری از آنان به دامن گروه داعش منجر گردد و در آن صورت جنگ میان طالبان و داعش اجتناب ناپذیر خواهد بود.

از جانب دیگر امریکا نیز در مورد خروج نیروهای خود از افغانستان مواضع ضدونقیضی را در پیش گرفته است و حتی شایعات ظهور گروه داعش در افغانستان نیز بهانه‌ای برای دوام حضور این کشور در افغانستان است.

بنابراین طالبان علی الرغم اینکه می‌گویند خواهان مذاکرات صلح اند، اما با توجه به شرایط حساس موجود حتی شایعات مذاکرات صلح را نیز نوعی جنگ تبلیغاتی علیه خود می‌دانند چه رسد به اینکه واقعاً به مذاکره بپردازند که این کار در شرایط موجود برای آنان به مثابهٔ خودکشی خواهد بود.

## حکومت افغانستان طالبان را دشمن اصلی خود می‌داند:

در داخل حکومت افغانستان مخالفت با پروسهٔ صلح بیشتر از مخالفت در صفوف طالبان است. پیش‌شرط‌های طرفداران حکومت افغانستان که باید طالبان قانون اساسی افغانستان را بپذیرند، به این معناست که طالبان باید همین نظام را بدون کم وکاست بپذیرند. اگر طالبان به این شرط تسلیم شوند، رهبران شان با این سوال جنگجویان مواجه می‌شوند که اگر این نظام مشکل شرعی نداشت پس به کدام منظور سیزده سال با این نظام جنگیدیم؟ در این رابطه سوالات شرعی مطرح می‌شود از جمله اینکه جنگ ما جهاد بود یا بغاوت؟ همسنگران ما که کشته شدند شهید اند یا نه؟

از جانب دیگر در داخل حکومت افغانستان نیز هنوز اجماعی برای مذاکره با طالبان به میان نیامده است. وقتی ظاهر طنین نمایندهٔ دایمی افغانستان در سازمان ملل متحد می‌گوید که طالبان دشمن اصلی دولت افغانستان اند، دیگر راهی برای مذاکرات صلح وجود ندارد!.

## اهداف و نتایج سفرهای اخیر مقامات افغان:

اکنون برگردیم به دلایل سفرهای اشرف غنی و داکتر عبدالله که در آغاز این بحث به آن اشاره شد.

زمانیکه پاکستان به حکومت جدید افغانستان وعده داد که حاضر است طالبان را به میز مذاکره حاضر سازد، تعدادی از شخصیت‌های افغان نسبت صداقت پاکستان ابراز شک وتردید نمودند و این موضع پاکستان را بازی جدیدی از جانب این کشور دانستند. اکنون به نظر می‌رسد که اشرف غنی نیز به تدریج به همین نتیجه رسیده است. سفر او به عربستان سعودی با این هدف صورت گرفت تا سعودی به عنوان یک کشور تاثیرگذار بر پاکستان، این کشور را به عمل به تعهدات خویش در پروسهٔ صلح افغانستان ترغیب نماید.

از جانب دیگر سفر رئیس اجرائیهٔ حکومت وحدت ملی به هندوستان، هرچند به دعوت یک روزنامهٔ هندی صورت گرفته است، اما در عین حال می‌تواند نوعی پیام به پاکستان باشد که اگر پاکستان در جهت صلح در افغانستان، در وعدهٔ خود تخلف نماید، افغانستان هنوز هم گزینهٔ دوستی نزدیک با هندوستان را در اختیار دارد.

همزمان با این سفر، در وزارت خارجهٔ افغانستان نیز نشست مشترکی با مقامات چینی برگزار گردید که در آن یکبار دیگر به نقش چین در پروسهٔ صلح افغانستان به خصوص به این دلیل که این کشور روی پاکستان نفوذ دارد، تاکید

صورت گرفت. یعنی چین باید از پاکستان بخواهد تا به وعده‌هایی که به حکومت افغانستان داده، وفا نماید. اما آیا این سفرها برای افغانستان نتایج دلخواه ببار خواهد آورد و پاکستان را زیر فشار قرار خواهد داد؟ با توجه به آنچه گفته آمدیم، رسیدن به این هدف بعید به نظر می‌رسد.

پایان

---

**ارتباط با ما:**

ایمیل:info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارۀ تماس: 784089590 (93+)